۲۰ ډسمبر ۲۰۲۳

**امنیت شورا ته د عمومي منشي د ځانګړي استازي لنډ راپور**

**په افغانستان کې د عمومي منشی د ځانګړي استازي روزا اتونبایوا له خوا امنیت شورا ته لنډ راپور**
**نیویارک، ۲۰ ډسمبر ۲۰۲۳**

[څرنګه چې وړاندي شوي دی]

ښاغلي رئيس،

آګاه یم چې د ملګرو ملتونو امنیت شورا په تېرو میاشتې کې څو ځلې، د ښځو د وضعیت او د ځانګړي کوردیناتور سنېرلي اوغلو خپلواکه ارزونې په ګډون، په افغانستان کې وضعیت تر بحث لاندي نیولی دی. په نړۍ کې چې ناورین څو ځلې زیات شوی دی، زه افغانستان ته د اوسنې پام له امله مننه کوم. زیات شمېر افغانان ما ته ویلې چې دوي ډار لري چې د تېر په ډول بیا هېر نشي. زه په کلکه په دې باور یم چې زما او د یوناما د دفتر ونډه دا ده چې د داسې یو وضعیت څخه مخنیوی وکړو.

په نږدې تېر وخت کې موږ د بشري حقونو د نړیوالي اعلامیې، کوم چې په کال ۱۹۴۸ د ډسمبر د میاشتې په ۱۰ نېټه د ملګرو ملتونو د عمومي مجمعې له خوا تصویب شوې و، ۷۵ کالیزه ونمانځله. افغانستان د دغه اعلامیې د اصلي تصویب کوونکې څخه و. خو په افغانستان کې اوس مهال د بشري حقونو کلیدي ارزښتونه په سیستماټیک ډول سره د ښځو او نجونو په وړاندي د تبعیض، سیاسي اختلاف او د بیان د آزادي په ډب کولو، د لږکیو د معنی دار استازیتوب نشتوالي، د محاکمې پرته وژنو پېښې، په خپل سر نیونې او توقیفول، شکنجه او ناوړه چلند ښکارندوی دی. د دوو تنو ښځېنه فعالینو د خوشې کیدو سره سره، اوس هم یو شمېر د بشري حقونو مدافعان او د رسنیو کارکوونکې په دوامداره توګه د په خپل سر نیولو له امله په توقیف کې دي.

د بشري حقونو اړوند موضوعاتو د رسیدګې نشتوالي د اوسنې خنډ کلیدی لامل دی.

نړیوال نورمونه او معیارونه منل او د هغه د رعایت او پلې کولو لپاره هڅه، څرنګه چې د ملګرو ملتونو په کنوانسیونونو کې راغلي او افغانستان هم هغه تصویب کړی دی، د تېر په ډول اوس هم په ملګرو ملتونو کې د کرسي د احرازول په خاطر د معاملې نه وړ شرط دی، چې ځانګړي کوردیناتور هغه واضح کړی دی او موږ هم په دوامداره توګه اوسنې چارواکو ته په ګوته کوو.

یوناما د اوسنې چارواکو سره د بشري حقونو په اړوند په تعامل کې دی. په ځېنو موضوعاتو لکه تر توقیف لاندي کسانو سره چلند په اړوند د دوي سره بحثونه کړي دي. موږ وینو چې زیات شمېر اوسنې چارواکې د یوناما سره د لا زیات تعامل لپاره تیار

دي او غواړي چې د بشري حقونو د معیارونو په اړوند لا زیات پوهاوی ترلاسه کړي. بحثونه او توصیې د یوناما د بشري حقونو په راپورونو کې د موندنو او توصیو پر بنسټ ترسره کیږي چې د هغه اخرنې بېلګه یې دا دي چې اوسنۍ چارواکې په څه ډول، د ښځو او نجونو په وړاندې د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالي شکایتونو ته رسیدګي کوي.

ښاغلی رئیس،

بشري وضعیت د تېر په څېر د اندېښنې وړ دی. موږ په داسې حال کې چې د ژمي موسم خوا ته روان یو، تر ۲۰ میلیونه زیات وګړي بشري مرستو ته اړتیا لري. د دې موضوع په پام کې نیولو سره چې بشري مرستې کمې شوي او د بشري مرستو لپاره د تقاضاء عرصه زیاته شوی ده، زیات شمېر افغانان د تېر کال د ورته مودې په پرتله لا زیات زیانمنیدونکي وي. د بشري مرستو د همغږۍ دفتر، یونوچا، په خپل وار د جزیئاتو سره معلومات به ورکړي، خو زه غواړم د دغه فرصت څخه په ګټه اخیستلو سره د مرستو پر بېړنیتوب باندي ټینګار وکړم.

اوسنۍ چارواکې تر یوه کچه امنیت یې ټینګ کړی دی. خو په افغانستان کې ناچاوده توکي اوس هم د یو ستر ګواښ په ډول، په ځانګړې ډول ماشومانو ته، پاتې دی. د ملګرو ملتونو د ماین پاکې د همغږۍ ریاست او د اوسنۍ چارواکو سره اړیکې ښه شوي دي او د سږ کال د اکتوبر د میاشتې را پدېخوا د همغږۍ په ډګر کې خنډونه لېرې شوي دي.

په هېواد کې شیعه افغانان د نااندډول ګواښ سره مخ دي. د عمومې منشي د راپور ورکولو په موده کې پر شیعه ګانو باندي دري بریدونه ثبت شوي چې ۳۹ تنه یې وژلي دي. د دغه ټولو بریدونو مسؤلیت د اسلامې حکومت د خراسان ولایت څانګه، داعش منلې دی. دري نور بریدونه چې د هرات ولایت پر شیعه ګانو باندي ترسره شوي دي، د ۹ تنو د وژلو لامل شوی دی.

په ورته حال کې د سیمې هیوادونه د افغانستان څخه دننه د لا زیات احتمالي ګواښ څخه په ژوره توګه اندېښنه څرګند کړي دي. په ځانګړي توګه پاکستان باور لري چې اوسنۍ چارواکې د پاکستانې طالبانو د تحریک پر خلاف مبارزه کې، کوم چې په دې نږدې وختونو کې ستر تروریستي بریدونه په پاکستان کې ترسره کړیدي، کوټلې ګامونه نه دي اخېستي.

تېره اوونۍ ما د اسلام آباد څخه لېدنه وکړه او په پاکستان کې میشت ناقانونه افغانانو د ایستلو پر موضوع باندي خبرې وکړې. د دغه افغانانو زیاتره برخه د جمهوریت د ړنګیدو وروسته پاکستان ته کډه شوي دي. د ملګرو ملتونو د مهاجرینو د کمشنر دفتر، د ۲۰۲۱ کال د اګست په میاشت کې، افغانستان ته د بېرته نه تګ اطلاعیه، په افغانستان کې د بشري او د بشري حقونو په دلایل، خپور کړ او د ۲۰۲۳ کال د فبروري په میاشت کې دغه اطلاعیه بیا تمدید کړ. دغه اطلاعیه په پاکستان کې میشت ټول افغان وګړو باندي، پرته د دوی د قانونې وضعیت په پام کې نیولو سره، د پلې کیدو وړ دی.

دغه پالېسي او کړنې د دواړو هېوادونو تر منځ اړیکو کې د کشالې لامل ګرځي. دا ډیره مهمه ده چې دواړه خواوې د وضعیت د لا خرابیدو د مخنیوي په خاطر نوي تدابېر ترلاس لاندي و نېسي او د ګډ منفعت پر بنسټ کار او خبرې پیل کړي. ما دغه موضوع د دواړه هېوادونو مشرانو ته انتقال کړي دي.

کابو نیم میلیون افغان وګړي د ژمي په موسم کې بېرته استول شوي دي. زه په خپله شخصاً پر پوله باندې وم او ومې لیدل چې د بشرپالنې مرسته رسونکې په دوامدار توګه د چارواکو سره د مرستو په چمتو کولو کې کار کول. دا یوه ډیره اغیزمنه همکاری ثابته شوي ده او اوسنۍ چارواکې د دې سره سره چې سر چېنې نلري، په بشپړ مسلکیتوب سره عمل کړی دی. بېرته راستنیدونکې

د ښوزلو تر ټولو ښوزله کسان دي. د دوي ۸۰۰۰۰ تنه په افغانستان کې د تلو لپاره هېڅ ځای نه لري. واضح ده چې د ښځو او نجونو لپاره د بشري حقونو پایلې ډېري سختې دي.
ښاغلي رئیس،

په افغانستان کې د معارف کیفیت د سترې اندېښنې وړ دی. نړیواله ټولنه په سمه توګه د نجونو په وړاندې د زده کړې د ممنوعیت پر لېږی کولو باندې ټېنګار کړی دی. خو ورځ تر بله د معارف کیفیت او هغه ته لاسرسي هلکانو باندې هم ناوړه اغیزه کړې ده.

موږ ډیر شواهد تر لاسه کړي دي چې نجونې کولای په هر سن کې مدرسې ته ولاړ شي. خو دا هم نه ده روښانه چې کوم شیان په مدرسه کې شامل دي، آیا هلته معیاري نصاب شته چې عصری مضامینو ته اجازه ورکړي او همدارنګه څو نجونې کولای شي مدرسه کې زده کړه وکړي.

داسې ویل کیږی چې د اوسنې چارواکو د معارف وزارت مسؤلین د دغو مدرسو او د دولتي ښوونځیو د تعلیمي نصاب پر کتنې باندې بوخت دي. د اوسنې چارواکو د معارف وزارت مسؤلین موږ ته وایي چې دوي په دې لټه کې دي چې په څه ډول ښوونځیو ته د نجونو د ښرته تګ زمینه برابره کړی. خو وخت په تېرېدو دی او دنجونو یو نسل شاته پاتې کیږی. د یو داسې عصري او کافي نصاب چې وکولای شي د نجونو او هلکانو لپاره په برابر ډول سره د لاسرسی وړ وي، د په ځان متکي اقتصادي په برخه کې، د اوسنې چارواکو د خپل اجنډا پلې کول ناممکنه کوي.

ښاغلی رئیس،

خپل په مخکني راپور کې ما په افغانستان کې د اقلیم د بدلون مخ پر زیاتیدونکې ستونزې ته اشاره کړې وه. له هغه وروسته، په دوبۍ کې د ملګرو ملتونو د اقلیم د بدلون کنفرانس ۲۸ غونډه ترسره شوه. یوناما هڅه وکړه تر څو له افغانستان څخه د یوه تخنیکي پلاوي ته د ګډون زمینه برابره کړي. خو د رسمیت پېژندلو اړوند پیچلتیاو له امله په دغه غونډه کې د افغان پلاوي ګډون ممکن نه شو. افغانستان په نړۍ کې د هغو هیوادونو څخه دی چې د اقلیم د بدلون له امله ډیر زیانمن شوی په داسې حال کې چې د اقلیم د بدلون په موجباتو کې د افغانستان ونډه ډیره کمه ده. زه په دې باور یم چې په دغو نړیوالو خبرو اترو کې طالب چارواکي باید برخه ولري.

د افغانستان د اقلیم بحران د حل موضوع باید سیاست باندې برتري او لومړیتوب ولري. د مسلسلې وچکالۍ له امله د اوبو کمښت هغه خطرناکې کچې ته رسیدلی چې په ټول هیواد کې محسوس کیږي - له کلیوالو ولسوالیو څخه نیولی، چیرې چې خلک د اوبو د نشتوالي له امله خپلې کروندې پریږدي، بیا تر پلازمینې پورې چې د اوبو زیاتره ذخیرې یې وچې دي او په میلیونونو خلک د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسي نلري.

افغانان یوازې د دې سترې ننګونې حل لاره نشي موندلی او د دې اغیزې به د افغانستان تر پولو پورې محدوده نه وي. طالبانو د دې مسئلې په اړه نړیوالې ټولنې سره د ښکیلتیا هوډ ښودلې ده. دوی د اقلیم د بدلون په اړه د ملګرو ملتونو د کاري چوکاټ کنوانسیون او د پاریس د تړون په اړه د افغانستان د ژمنو درناوي په ګډون د دې ستونزې په اړه خپل مسوولیتونه مني. زه له ټولو څخه غواړم چې د اقلیم د بدلون په اړه په راتلونکو غونډو کې د افغانستان د ګډون لپاره زمینه برابره کړي.

د مخدره توکو سره مبارزه هغه بله ځانګه ده چیرې چې د همکارۍ محدوده ډېره پراخه ده. څرنګه چې د نشه يي توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو سازمان د مبارزې دفتر راپور ورکړی، طالبانو په بریالیتوب سره د تریاکو کښت په سلو کې ۹۵ کمه کړې، چې په دې شان د نړیوالې ټولنې ډېره پخوانۍ اندیښنه رفع شوه. ما په کابل کې د سفیرانو يوه کاري ډله جوړه کړه ترڅو د اغېزمنو بزګرانو او په نشه يي توکو روږدو کسانو ته د مرستې لپاره يوه نړيوال غبرګون تنظیم کړي. خو د یادې ستونزې په اړه موږ د مرستندویانو او سیمه ایزو همکارانو څخه لا زیاتې نړیوالې پاملرنې او تمرکز ته اړتیا لرو.

ښاغلی رئیس،

زه اوس غواړم چې د ځانګړي همغږي کوونکي راپور، کوردیناتور سنیرلی اوغلو او مخ په وړاندې لاره او د یوناما نظرونو په اړه معلومات ورکړم.

زه د دغې خپلواکې ارزونې هرکلی کوم. دغه خپلواکه ارزونه د ډیرو مسئلو په اړه اړین وضاحت وړاندې کړی چې د یوناما د ارزونو ملاتړ هم کوي. تر ټولو مهمه دا چې، دا يوه واضح د پای ټکی وړاندې کوي – او هغه دا چې د تاوتریخوالی له یوه بل پړاو پرته، نړیوال قانون سره سم د افغانستان دولت په بشپړ ډول نړیوال سیستم کې مدغم شي.
په دې راپور کې داسې څه شته چې هر برخه وال به له هغه سره مخالف وي خو زه له ټولو څخه غواړم چې لا ستر هدف په پام کې ونیسي.

په دې اړه، موږ ولید چې طالبانو د ځانګړي استازي ګمارل د منلو وړ نه باله. د طالبانو د بهرنیو چارو وزير څرګنده کړه چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي اوږد تاریخ مثبتې پایلې نه درلودې.

په عمومي توګه، راپور ته د طالبانو ځواب د څو اړخیزو چلندونو پر ځای د دوه اړخیز چلند غوره توب څرګندوي. دوی اوس هم دا وايي چې د نجونو پر زده کړې او د ښځو پر کار کولو بندیز د افغانستان کورنې مسائل دي، سره له دې چې دا د اوسني ترون له مکلفیتونو څخه سرغړونه ده. زه بیریږم چې دا چلند به هغه کړکیچ اوږد کړي چې دغه ارزونه يې د حل کولو هوډ لري.

ښاغلی رئیس،

زه په دې باور یم چې زموږ راتلونکی چلند باید د دوو عواملو په رڼا کې وي. لومړی، د افغانستان په اړه دوامداره او مفصله نړیواله اجماع. زه هیله لرم چې موږ دغه هدف د ځانګړي استازي په راتلونکې پلان شوې ناسته کې لاس ته راوړی شو. دوهم، د نړیوالې ټولنې له غړو سره په خبرو اترو کې د ښکیلتیا لپاره د طالبانو د لیوالتیا څخه لا ډېره ګټه پورته کول. خبرې اترې د مشروعیت ورکولو په معنی نه ده. دا د مخالفت څرګندولو لپاره کاریدی شي خو بدلون هڅوي. موږ اکثراً د ۲۰۲۱ د اګست راهیسې د ښکیلتیا څخه د سبق اخیستلو د اړتیا په اړه غږیدلي یو. زما په نظر یو سبق دا دی چې موږ کافي ښکیلتیا نه درلوده. د کابل په ګډون، موږ باید د طالبانو سره لا زیاتې مستقیمې اړیکې ولرو.

زه د اسلامي همکاریو سازمان څخه ډېره مننه کوم چې تیره میاشت يې په جده کې «ښځې په اسلام کې» تر سرلیک لاندې يوه بنسټیز کنفرانس جوړ کړ. د ښځو د حقونو په برخه کې د اسلامي نړۍ د یووالی څرګندول لازم وو. د وخت په تیریدو سره دغې څرګندونې به خامخا مجموعي مثبت اغیز ولري.

د ښځو د حقونو په برخه کې د معضلې سرېره، یوناما د اقلیم، کوچنیو مالیاتو، مخدره توکو او اعتیاد سره د مبارزې، ماین پاکۍ، د خصوصي سکتور پراختیا، بشري حقونو او حکومتولۍ په اړه ځینې بریالي متاقبلې معاملې درلودې. دا هغې برخې دي چې د میلیونونو افغانانو پر ژوند مستقیمې اغیزې لري. د طالبانو وزارتونه په کاري کې کچه تخنیکي مرستې ته اړتیا لري ترڅو په دې برخو کې خدمتونه وړاندې کړي.
د خپلې ګټې لپاره طالبانو باید د هغه څو اړخیز وړاندیز په ارزښت پوه شي چې د ځانګړي همغږي کونکي لخوا دوی ته وړاندې شوی. دا د افغانستان د ستونزې اهمیت په داسې وخت کې په ډاګه کوي چې په نړیواله اجنډا کې ډیرې نورې ستونزې شتون لري او بلاخر له نړیوالې ټولنې سره د افغانستان د اړیکو د حل لپاره لاره واضح کوي. خو په هرصورت، د ټولو خواوو څخه زغم ته اړتیا ده.

ښاغلی رئیس، زه د ټولو امکاناتو سره چې زما په لاس کې دي هڅه به وکړم چې ښکېل اړخونو د جوړجاړي پر میز کینولو ته وهڅوم.

مننه
***